(١)

## د حجرات په سورت کې بشرې ارزښتونه

ټول ثنا او صفت د هغه الله جل جلاله لپاره دی چي د ټولو مخلوقاتو پالونکی دی هغه پخپل کتاب کې فرمايلي: **« قُلْ إِنَّنِي هَدَانِي رَبِّي إِلَى صِرَاطٍ مُسْتَقِيمٍ دِينًا قِيَمًا مِلَّةَ إِبْرَاهِيمَ حَنِيفًا وَمَا كَانَ مِنَ الْمُشْرِكِينَ»**ژباړه:«[ای محمده (ص)!] ووايه: زما رب په يقيني توګه ما ته سمه لاره راښودلې ده. بيخي صحيح دين چي په هغه کښي کوم کوږوالی نشته، د ابراهيم ( ع) مسلك چي هغه يوه لوري ته په متمايل کېدو غوره کړی ؤ، او هغه له مشرکانو څخه نه ؤ»او زه ګواهي ورکوم چي نشته لايق د عبادت مګر يو الله دی چي هيڅ شريک نلری، او زه ګواهي ورکوم چې زمونږ سردار او نبي محمد صلی الله عليه وسلم د الله جل جلاله بنده او رسول دی فرمايي: يقينا زه ددي لپاره را ليږل شوی يم چې نيک اخلاق بشپړ کړم، درود سلام او برکت دي وي په هغه او د هغه په آل او په ملګرو او په هغه چا باندي چې د قيامت تر ورځي پوري په نيکۍ سره د هغه تابعداري کوي.

**و بعد:**

په قرآن کريم کې بيلابيل داسي آياتونه راغلې دې چې د نيکو او ښو اخلاقو او د لوړو ارزښتونو د رامنځته کيدو غوښتنه کوې بلکه مکمل ځيني داسي سورتونه راغلې دې چې د يوي پرمخ تللی انساني ټولنې جوړښت رامنځته کوې، لکه د حجرات سورت چې د يو شمير ارزښتونو او اخلاقو پياوړتيا رامنځته کوې، چې لدې جملي څخه لومړۍ هم ښکاره والی او ثابت والی دی چې په

ټولو چارو کې باید ترسره شي په ځانګړې ډول کله چې دغه چاري د خلکو د چارو پوري اړه ولري لکه چې الله تعالی فرمايي: « يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِنْ جَاءَكُمْ فَاسِقٌ بِنَبَإٍ فَتَبَيَّنُوا أَنْ تُصِيبُوا قَوْمًا بِجَهَالَةٍ فَتُصْبِحُوا عَلَى مَا فَعَلْتُمْ نَادِمِينَ» ژباړه «اې مؤمنانو! که کوم فاسق تاسي ته له کوم خبر سره راشي، نو تاسي (د خبر په اړه) پلټنه او تحقيق وکړئ، هسي نه چې کومي ډلي ته په ناپوهۍ سره ضرر ورسوئ او بيا پخپلو کړو پښېمانه شئ»، نو د اسلام مبارک دين هر څه په يقين باندي بنا کړې کله چې سليمان عليه السلام ته هدهد مرغه راغی او د هغه کسانو خبر يی ورکړ چې د الله تعالی ماسوا د لمر عبادت کوي او ورته يی وويل چې دا يقينی خبر دی د هغه خبری ته تسليم نشو بلکه د هغي د وضاحت او يقين والی غوښتنه يي تري وکړه لکه چې په قرآن کې راغلي: **« قَالَ سَنَنْظُرُ أَصَدَقْتَ أَمْ كُنْتَ مِنَ الكَاذِبِينَ»** ژباړه «**سليمان (ع) وويل: "همدا اوس به موږ ګورو ي تا رښتيا ويلي دي او که ته له درواغجنو څخه يې»، او نبي کريم صلی الله عليه وسلم فرمايلي: د يو چا لپاره همدا ګناه بسنه کوي چې هرڅه واوري وايی بغير لدي چې فکر پکې وکړي.**

امام نووي رحمه الله فرمايي: ځکه شخص په عادت کې داسي وي چې دروغ او رېښتيا دواړه آوري که په هرهغه څه کې خبري کوې چې آوري نو ښايي چې دروغو خبر ورکړې او کله چې يو شخص د عمر بن عبدالعزيز مجلس ته داخل شو او د يو سړي په هکله يي ورته خبري وکړې هغه ورته وفرمايل که ته رېښتيا وايي مونږ به يي په اړه فکر وکړو او که ته درواغ وايي نو په تا باندي دا آيات تطبيقيږي چې الله تعالی فرمايي: « إِنْ جَاءَكُمْ فَاسِقٌ بِنَبَإٍ فَتَبَيَّنُوا» ژباړه: « که کوم فاسق تاسي ته له کوم خبر سره راشي، نو تاسي (د خبر □ه اړه) □لټنه او تحقيق و□ړئ»، او که ته رېښتيا وايي نو په تا بيا دا آيات د قرآن پلي کيږي چې الله تعالی فرمايي: « هَمَّازٍ مَشَّاءٍ بِنَمِيمٍ» ژباړه: « □ېغورونه ورکوي، خبري وړي راوړي»، او که دي خوښه وي نو مونږ به درته عفوه وکړو

نو هغه ووىل بخښنه غواړم اى امىر المؤمنىن، كه چىرته په مونږ كې هر ىو ددي حرص ولري چې ښكاره او ثابت پاتى شي او وضاحت وغواړي مخكي لدي چې حكم كوي او مخكي لدي چې خپروي نو آوازي به خپلي اغىزى د لاسه وركړې او د هغه چا مخنىوى به وشي چې د خلكو په منځ كې په درواغو باندي آوازي خپروي.

لدي جملي څخه بل هم د غىبت څخه لىرى والى دى الله تعالى فرمايي: « وَلَا يَغْتَبْ بَعْضُكُمْ بَعْضًا أَيُحِبُّ أَحَدُكُمْ أَنْ يَأْكُلَ لَحْمَ أَخِيهِ مَيْتًا فَكَرِهْتُمُوهُ وَاتَّقُوا اللَّهَ إِنَّ اللَّهَ تَوَّابٌ رَحِيمٌ » ژباړه: « او ستاسي څخه دي څوك د □ا غيبت نكوي. ايا □ه تاسي □ي داسي څوك شته □ي د خ□ل مړه ورور غوښي خوړل خوښ □ړي؟ - گورئ تاسي □خ□له د دې څخه كركه كوئ. د الله څخه ووېرېږئ. الله ډېر ښه

توبه قبلوونکی او خورا مهربان دی»، او د ابوهری‌ره رضی الله عنه څخه روایت دی وایي چې نبي کریم صلی الله علیه وسلم فرمایلي: آیا تاسو پوهیږئ چې غیبت څه شی دی؟ مونږ ورته ووېل الله او د هغه رسول پري ډېر خه پوهیږي وي فرمایل: د خپل ورور په‌داسي ډول سره یادونه چې بد یي ګڼي یو چا ورته ووېل آیا هغه څه چې د خپل ورور په هکله وایم او پکې وي؟ نو وي فرمایل: که چیرته پکي وي نو غیبت دي ورته وکړ او که چیرته پکي نه وي نو بهتان دي پري ولګولاو کله چې یو انسان د بل عیبونو پسي ګرځي په حقیقت کې خپل عیبونه برڅیره کوي پدي هکله بیلابیل حدیثونه راغلي دي، تر دي چې د انسان څخه غوښتنه شوي ده چې د خپل ورور د حیا ساتنه او عیبونه یي لیري کړي لکه چې نبي کریم صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: څوک

چې د خبأ ورور څخه عیب لیری کړي قیامت په ورځ به
یي الله تعالی د هغه د مخ څخه اور لیري کړې.
همدارنګه لدي جملي څخه بل هم د عیب لیری والی
دی الله تعالی فرمایي: « وَلا تَلْمِزُوا أَنفُسَكُمْ» ژباړه: «
□خ□لو منځو کي یو د بل عیب مه لټوئ»، یعني یو د
بل عیبونه مه لټوئ او عیب لټونه هم په ویںا سره
کیږي او هم په کړني سره قرآن کریم لدي دواړو څخه
منعه کړې ده لکه چې الله تعالی فرمایي: «وَيْلٌ لِكُلِّ هُمَزَةٍ
لُمَزَةٍ» ژباړه: « د هر هغه □ا ل□اره تباهي ده □ي (مخامخ)
خلکو ته د □یغور ورکولو او (□ه شا □سي يې) د بدیو کولو
□ه عادت اخته دی»، دا هغه خلک دې چې په خلکو کې
عیبونه لټوي او پیداسي نومونو باندي هغوی یادوي چې
هغوی بده ګڼي او پدي سره ددوی لپاره د سخت
هلاکت وعده شوي ده لکه چې پدي هکله د این مسعود

رضی الله عنه حدیث راغلی چې منافقانو سره په دریځ کې رامنځته شوی وو چې بیا د الله تعالی دا آیات نازل شو چې فرمایي: « الَّذِينَ يَلْمِزُونَ الْمُطَّوِّعِينَ مِنَ الْمُؤْمِنِينَ فِي الصَّدَقَاتِ وَالَّذِينَ لاَ يَجِدُونَ إِلَّا جُهْدَهُمْ فَيَسْخَرُونَ مِنْهُمْ سَخِرَ اللَّهُ مِنْهُمْ وَلَهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ» ژباړه: « (هغه بخیل شتمن ښه □ې□ني) □ي د هغو مؤمنانو □ر مالي قربانیو تبصرې کوي، □ي □ه خوښه او مینه یې لګوي. او □ه هغو کسانو □وري مسخرې کوي □ي له هغو سره (د خدای □ه لار □ښي د لګولو ل□اره ) له دې □رته نور څه نشته □ي □ر خ□ل ځان تکلیف تیروي او لګښت کوي. الله □ه دې ملنډو وهونکو □وري مسخرې کوي او د هغو ل□اره دردنا□ه سزا ده».

همدارنګه لدي جملي څخه بل هم په خلکو باندي د مسخرو او ټوکو ټکالو بندول دي حقیقي مومن هیڅکله

هم مسخری او ملنډی نه وهي الله تعالی فرمايي: « يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا يَسْخَرْ قَوْمٌ مِّن قَوْمٍ عَسَى أَن يَكُونُوا خَيْرًا مِّنْهُمْ وَلَا نِسَاءٌ مِّن نِّسَاءٍ عَسَى أَن يَكُنَّ خَيْرًا» ژباړه: « اې مؤمنانو! نه دي نارينه □ر نورو نارينه ؤ ملنډي وهي، لکېدی شي □ي هغوی له دوی څخه غوره وي. او نه دي ښځي □ه نورو ښځو ملنډي وهي، □ېدای شي □ي هغوی له دوی څخه غوره وي. □خ□لو منځو کي يو د بل عېب مه لټوئ، او مه يو بل □ه بدو نومونو سره يادوئ. له ايمان راوړلو وروسته □ه فسق □ي نوم □يدا کول ډېره بده خبره ده. کوم کسان □ي دغه □ار □لند □رېنږدي (توبه ونه باسي)، همغوی ظالمان دي»، زمونږ دین مونږ د هر هغه کار څخه منعه کړې یو چې نوروته زیان رسېږي د مسلمان د صفتونو څخه یو هم دا دی چې هیڅا ته زیان ونه رسوي او خلکوته خیر او ښیګڼه ورسوي.

**نبي کریم صلی الله علیه وسلم د هر هغه کار څخه منعه کړې ده چې د چا احساساتو ته ضرر رسېږي هغه که په وینا سره وي که په کړني سره وي او که په اشاري سره نبي کریم صلی الله علیه وسلم همیشه هڅه کولو ترڅو په انسان کې داسي احساس پیدا کړي چې د هغه شان او شوکت د خلکو په سترګو کې زیاتیدو لکه چې پدي هکله د عبدالله ابن مسعود او د علی رضی الله عنه کیسه د نبي کریم صلی الله علیه وسلم په وړاندي رامنځته شوي ده چې په همدي باندي دلالت کوي.**

**اقول قولی هذا و استغفرالله لی ولکم**

*********

ټول ثنا او صفت د هغه الله جل جلاله لپاره دی چي د ټولو مخلوقاتو پالونکی دی، او زه ګواهي ورکوم چي نشته لایق د عبادت مګر یو الله دی چي هیڅ شریک نلری، او زه ګواهي ورکوم چي زمونږ سردار او نبي محمد صلی الله علیه وسلم د الله جل جلاله بنده او رسول دی درود سلام او برکت دي وي په هغه

او د هغه په آل او په ملګرو او په هغه چا باندي چې د قيامت تر ورځې پوري په نيکۍ سره د هغه تابعداري کوي.
**ډيرو درنو مسلمانانو ورونو:**
د لويو ارزښتونو د جملي څخه چې د حجرات په سورت کې د هغي يادونه شوي ده د وروروليٰ پياوړتيا او د خلکو ترمنځ اصلاح والی او سمون دی پدي هکله الله تعالی فرمايي: «إِنَّمَا الْمُؤْمِنُونَ إِخْوَةٌ فَأَصْلِحُوا بَيْنَ أَخَوَيْكُمْ ۚ وَاتَّقُوا اللَّهَ لَعَلَّكُمْ تُرْحَمُونَ» ژباړه: « مؤمنان خو يو د بل سره ورونه وي، نو د خپلو ورونو په منځ کښي مناسبات سم کړئ، او د الله څخه ووېرېږئ، هيله ده چي پر تاسي رحم وکړای شي»، نو اصلاح والی د لوړو ارزښتونو د جملي څخه راځي چې پدغه مبارک سورت کې ورته اشاره شوې ده همدارنګه زمونږ مبارک دين هم له مونږ څخه ددي غوښتنه کوي چې بايد د يو پرمخ تللي انساني ټولني لپاره کار وکړو ترڅو د ګډ ژوند کولو ارزښتونه پکي پياوړې شې او د خلکو ترمنځ مينه محبت او نزدی والی راشې چې د تاوتريخوالي او جګړو څخه ليري وې او دا د هر هغه چا لپاره علاج دی چې هغه تاتريخوالی او اختلاف ته لاره هواروي.
که د کورنۍ په چوکاټ کې وګورو قرآن کريم له مونږ څخه ِغوښتنه کړې ده که چيرته د خاوند او ښځې ترمنځ اختلاف راځې او نشي کولای چې پخپله حل کړې نو يو دريم ګړی دی وليږي ترڅو ترمنځ يي سمون او اصلاح راولي لکه چې الله تعالی فرمايي: « وَإِنْ خِفْتُمْ شِقَاقَ بَيْنِهِمَا فَابْعَثُوا حَكَمًا مِنْ أَهْلِهِ وَحَكَمًا مِنْ أَهْلِهَا إِنْ يُرِيدَا إِصْلاحًا يُوَفِّقِ اللَّهُ بَيْنَهُمَا إِنَّ اللَّهَ كَانَ عَلِيمًا

خَبِيرًا» ژباړه: «او که تاسي چيرته د مېړه او مېرمني د اړيکو د خرابېدو په باب اندېښمن ياست؛ نو يو منځګړی د مېړه له خپلوانو څخه او يو د مېرمني له خپلوانو څخه وټاکئ. که هغوی دواړه روغه جوړه کول وغواړي؛ نو الله به د هغو دواړو تر منځ د توافق لاره برابره کړي. الله په هر څه پوه او باخبره دی»
ټولنې لپاره دغه اصلاحی او سمون روح ډېر اړين دی لکه چې الله تعالی فرمايي: «لاَ خَيْرَ فِي كَثِيرٍ مِنْ نَجْوَاهُمْ إِلَّا مَنْ أَمَرَ بِصَدَقَةٍ أَوْ مَعْرُوفٍ أَوْ إِصْلاَحٍ بَيْنَ النَّاسِ وَمَنْ يَفْعَلْ ذَلِكَ ابْتِغَاءَ مَرْضَاةِ اللَّهِ فَسَوْفَ نُؤْتِيهِ أَجْرًا عَظِيمًا» ژباړه:« د خلکو په پټو مجلسونو کښې زياتره څه ښېګڼه نه وي. هو، که څوك په پټه توګه د صدقې او خيرات لارښوونه وکړي يا د کوم ښه کار لپاره يا د خلکو په چارو کښي د اصلاح کولو لپاره چا ته څه ووايي، نو البته دا ښه خبره ده، او څوك چي د الله د خوشحالولو په خاطر داسي وکړي، هغه ته به موږ لوی ثواب ور په برخه کړو».
نبی کريم صلی الله عليه وسلم هم د اصلاح او سمون والی جزا او بدله بيان کړې ده او دا يي ويل چې ددي اغيزي به هم په شخص باندي وي او هم به په ټونه باندي لکه چې ه حديث کې د همدي ښودنه شوي ده چې د لمونځ او صدقي څخه داغ وره دی او اصلاح او سمون والی بايد رامنځته شي.
نو حقيقي مومن اصلاح او سمون د خپل ژوند تګلاره ګرځوي چيرته چې وي د خير او د ښيګڼي غوښتنه کوي لکه چې نبی کرم صلی الله عليه وسلم فرمايي: ځيني خلک داسي دي چې د خير کيلی ګاني دي او د شر بندوونکي دي او ځيني بيا د شر کيلی

ګانی او د خیر بندوونکي دي د خیر کیلی ګانو والاته دي خوشبختي وي او د شر کیلی ګانو والا ته دي هلاکت وي.
الله تعالی دي مونږ ته د نیکو اخلاقو لاره وښايي ځکه چې له الله پرته بل څوک دا نشي ښودلای او ګناهونه دي له مونږ څخه لیري کړي او الله تعالی دي مصر د نوری نړۍ د هیوادونو سره په امن او سوله کې ولري.